



1-855-626-0000
orientationontario.ca/en

# Orientation to Ontario

# ماشوم پالنه

## ماشومانو ته د پاملرنې ډولونه

د ماشوم پاملرنې د دواړو ډولونو لګښتونه ډېر توپير سره لري او د ماشوم پاملرنې بېلابېل مرکزونه مختلف مقررات لري. ځينې يې غواړي چې ستاسو ماشوم ټول يا بشپړ وخت له دوی سره حضور ولري. نور مرکزونه په موقتي ډول او له رسمي وخت وروسته د ماشومانو د پاملرنې خدمتونه وړاندې کوي.. يادو پاملرونو ته د ماشومانو د داخلولو لپاره ممکن د انتظار اوږده ليستونه موجود وي.

## د ماشوم پالنې جواز

د نرسري يا ماشوم پالنې د مرکز له ورځني قانون سره سم، هغه پالوونکي چې له پنځو زيات نامرتبط ماشومان پالي چې عمرونه يې له لس کلنۍ کم وي بايد د پوهنې وزارت څخه جواز ولري. د ماشومانو د پاملرنې جواز لرونکي مرکزونه په منظمه توګه د وزارت د کارمندانو لخوا معاينه کيږي؛ ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دوی روغتيا، خونديتوب او د پاملرنې روزنې معيارونه پوره کوي. د جواز لرونکي ماشوم پالنې مرکز ممکن په شخصي کور، ښوونځي، د ټولنې مرکز يا يوه جلا ځای او تاسيساتو کې وي. د ماشومانو د پاملرنې ځينې جواز لرونکي مرکزونه شخصي دي او نور يې د همکارانو په توګه پرمخ وړل کيږي، چې والدين د مرکز له چلولو کسره مرسته کوي.

د ماشومانو د پاملرنې د انتخابونو په اړه د پوهنې په وزارت کې په ontario.ca يا findlink.at/childcare لينکونو کې معلومات تر لاسه کړئ.

## د ماشوم پالنې بې جوازه مرکزونه

هغه پالوونکي چې په خپل کور کې د پنځو يا له دې لږو غير اړونده ماشومانو ساتنه کوي جواز ته اړتيا نه لري.

کله چې تاسو د غير جواز لرونکي ماشوم پاملرنې مرکز غوره کوئ، تاسو بايد په خپل قضاوت تکيه وکړئ چې دا به ستاسو د ماشوم لپاره مناسبه پاملرنه چمتو کړي.

## د ماشومانو د پاملرنې سبسايډي

که تاسو نه شئ کولی د ماشوم پاملرنې لپاره پيسې ورکړئ، تاسو ممکن د سبسايډي مستحق ياست. د خپل مېشتېدنې لهمشاور سره خبرې وکړئ يا د پوهنې وزارت ته edu.gov.on.ca يا findlink.at/payingchc ته مراجعه وکړئ.

تاسو ته نږدې د مېشتېدنې ادارې موندلو لپاره settlement.org ته مراجعه وکړئ.

## کاناډا د ماشوم امتيازات Canada Child (CCB) Benefit

CCB له ماليې څخه پرته مياشتنۍ تاديه ده چې مستحقو کورنيو ته ورکول کيږي ترڅو له 18 کلنۍ کم عمره ماشومانو د روزنې د لګښت په برخه کې له دوی سره مرسته وشي. هر هغه څوک چې د ماشوم د لومړنۍ پاملرنې مسوليت په غاړه لري کولی شي دا امتيازات ترلاسه کړي.

د لا زياتو معلوماتو لپاره د کاناډا خدمتونو ته مراجعه وکړئ servicecanada.gc.ca يا findlink.at/UChildCB

**مهم يادښت**

**په اونټاريو کې د ماشوم پاملرنې دوه ډوله مرکزونه شته: جواز لرونکي او جواز نه لرونکي. تاسو بايد دا دوه اختيارونه (اپشنونه) په پام کې ونيسئ او بيا هغه وټاکئ چې ستاسو د کورنۍ لپاره غوره وي.**

Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada
Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada



## د اونټاریو د لومړیو کلونو مرکزونه

د لومړنیو کلونو مرکزونه په ټول ایالت په ټولنیزو مرکزونو کې پروګرامونه دي.

والدین او پالوونکي کولی شي تر شپږو کلونو پورې ماشومان د دولت لخوا تمویل شوو مرکزونو ته د لوبو او زده کړې لپاره راولي او باید د دوی سره ګډون وکړي. دا مرکزونه د کورنیو خدمتونو په اړه هم معلومات ورکوي او ورتلل لګښت نه لري.

تاسو ته نږدې د پاملرنې مرکز موندلو لپاره اونټاریو خدمتونو ادارې ته په 1-800-268-1153 زنګ ووهئ یا oeyc.edu.gov.on.ca یا findlink.at/EarlyYearC ته د پوهنې وزارت ته مراجعه وکړئ.

## بشپړه ورځ وړکتون

د اونټاریو عامه ښوونځي اوس د څلورو او پنځه کلنو ماشومانو لپاره د وړکتون د پوره ورځې خدمتونه وړاندې کوي. د وړکتون په ډېرو پروګرامونو کې ښوونکی او د ماشوم روزونکی دواړه شامل وي. ځینې ښوونځي د وړکتون زده کوونکو لپاره د سهار له 7:00 بجو څخه د ماښام تر 6:00 بجو پورې له ښوونځي وړاندې او وروسته پروګرامونه وړاندې کوي. وړکتون وړیا دی، مګر کورنی باید د خپلو ماشومانو لپاره مناسب فیس ورکړي چې له ښوونځي وړاندې او وروسته پروګرامونو کې ګډون وکړي، کوم چې ډېری وخت د منتظرو کسانو لېست لري.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د پوهنې وزارت ته مراجعه وکړئ ontario.ca یا findlink.at/full-dayK

**ایا پوهېدئ؟**

**د ماشومانو د پاملرنې ډېری مرکزونه د ماشومتوب د ابتدایي زده کړې (ECE) ډیپلوم لرونکي کسان ګماري.**